

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د مال، ځان او وخت قرباني کول؛ د دعوت د لېږد تر ټولو مهم صفتونه!**

**(ژباړه)**

په رښتیا هم چې د دعوت لېږد یو لوی کار او له ستونزو ډکه لار ده. دا لاره رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه اصحابو رضوان الله علیهم مخکې تعقیب کړې او هغو کسانو ته یې په میراث پرېښې چې په دغه دعوت ایمان لري، څو خلک د بندګانو له بندګۍ خلاص کړي او د الله سبحانه وتعالی د بندګۍ په لور یې روان کړي. په دغه لاره کې هغه څوک ستونزې زغملی شي، چې خپل نفس د دعوتګر په ځانګړنو وروزي او عادت کړي؛ چې په دې برخه کې له مهمو ځانګړنو څخه یوه یې قرباني کول دي.

د قرباني کولو مفهوم: له بدیل پرته د یو څیز ډالۍ ورکول دی؛ د بېلګې په ډول: د ځان، مال، کار، وخت، مقام، علم، منصب او... قرباني کول دي، تر دې چې انسان وانګېري چې له اساسي اړتیاوو څخه زیات په نورو څېزونو کې حق نه لري؛ او د هغې څیزونو په قرباني کولو سره د الله سبحانه و تعالی رضایت او د هغه له دین سره مرسته وغواړي، ځکه بې ځایه هېلې او خیالونه انسان لوړو پوړونو ته نه رسوي. همدارنګه دعوتونه له قربانیو او سربښندنو پرته مخ پر وړاندې نه ځي. که پوه شئ چې د دعوتګرو ابتلاء کول یو پخوانی سنت دی، نو دې ته مو هم باید پام وي چې د حق دعوت له قربانۍ پرته وړاندې نه ځي.

د ځان قرباني کول: دا هغه ځانګړنه ده چې هر دعوتګر يې بايد ولري او د شکنجې، تکذيب، تعقيب، د پيسو نشت، زندان او د ژوند د هرې سختۍ په څېر د بېلابېلو ستونزو پر وړاندې بايد د مرګ تر پولې چمتو وي. په دغه لاره کې د دعوت الګو يوازې انبيا عليهم السلام او اصحاب رضی الله عنهم دي؛ ځکه زموږ پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم هم د خپل دعوت د رسولو په لاره کې د مشرکينو لخوا وځورېد. کله چې د صفا غونډۍ ته پورته شو، خپل نژدې خپلوان يې وويرول، خو دی صلی الله عليه وسلم يې تر دې کچې له ډول ډول ستونزو سره مخ کړ چې د ساحر او لېوني کلمې يې هم ورته وکارولې؛ په داسې حال کې چې له هغه وړاندې په رښتيني او امين مشهور و. همدارنګه پيغمبر صلی الله عليه وسلم او د هغه اصحاب له سختو ستونزو سره مخ شول او په لويو ازموينښتونو ابتلاء شول، تر دې چې د حج په ورځو کې يې له بېلابېلو قبيلو څخه د تبليغ او د الله سبحانه وتعالی د دين د رسولو لپاره د ملاتړ غوښتنه وکړه. وروسته طايف ته لاړ، هيله يې دا وه چې خپلې موخې ته ورسېږي؛ خو په داسې حال کې له هغه ځايه وشړل شو چې بوټان يې له وينو څخه ډک وو. پيغمبر صلی الله عليه وسلم، د هغه اصحاب او ملاتړي يې په شعب (د ابو طالب دره) کې درې کاله کلابند وو او د دغې کلابندۍ پرمهال اړ شول څو د ونو پاڼې وخوري.

د دعوت په لاره کې اصحابو کرامو ډېرې قربانۍ او سرښندنې زغملې دي؛ د بېلګې په توګه: حضرت بلال، سميې، ياسر و عمار رضی الله عنهم د الله سبحانه وتعالی په لاره کې تر ټولو سختې شکنجې زغملې؛ لکه څنګه چې حضرت ياسر او سميې د خپلې عقيدې او ايډيولوژۍ د لېږد او د ثواب او هغه جنت د لاسته راوړلو لپاره چې پراخوالی يې د آسمانونو او ځمکې په څېر دی، خپل روح خالق ته وسپاره.

همدارنګه د قريشو مشرکينو حضرت عبدالله ابن مسعود په دې ګناه چې پر رسول الله صلی الله عليه وسلم نازل شوي اياتونه يې خلکو ته واورول، تردې کچې وواهه چې پر بدن يې وينې روانې شوې. دی د قريشو له دغه چلند څخه خوشحاله و، ځکه پوهېدو چې الله سبحانه وتعالی د دغو شکنجو بديل ورکوي او حتا ويل يې: «په پروردګار مې دې قسم وي! د الله سبحانه و تعالی دښمنان مې هېڅکله دومره خوار او ذليل نه وو ليدلي؛ که غواړئ، سبا يو ځل بيا دا کار کوم. ورته ويې ويل: نه بس دی، هغه څه دې ورته واورول، چې نه يې خوښېدل.» وروسته حضرت مصعب رضی الله عنه دی چې خپل ارامه او هوسا ژوند يې پرېښود او مدينې منورې ته يې د دعوت خپرولو په موخه هجرت وکړ. حضرت علي رضی الله عنه د هجرت په شپه د رسول الله صلی الله عليه وسلم په بستره کې ويده شو او پر ځان يې د مړينې خطر ومانه. حضرت براء رضی الله عنه په «حديقة الموت» کې خپل ځان د دښمنانو منځ ته وغورځاوه؛ د هغه دا کار د دې لامل شو چې الله سبحانه وتعالی مسلمانانو ته لويه بريا ورکړه. حضرت

ابوالدرداء رضی الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د یوځای کېدو لپاره خپله سوداګري پرېښوده. همدارنګه حضرت خالد رضی الله عنه له امیرالمومنین حضرت عمر رضی الله عنه څخه د پیروی لپاره له خپل منصب څخه تېر شو. ابو عبیده رضی الله عنه هم له خپل امارت څخه د مسلمانانو د یووالي لپاره د عمرو ابن عاص رضی الله عنه په ګټه ګوښه شو.

هېڅ دعوت د خپلو پیروانو له زحمت او هڅې پرته نه خپرېږي او د اسلام دین هم په اسانۍ او له زحمت پرته نه دی خپور شوی. دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اصحابو او ټولو مسلمانانو لوړ همت و چې اسلام تر موږ پورې راورسېد. هغوی خپل هېواد پرېښود؛ خپلې کورنۍ، اولادونو او سوداګرۍ ته یې هم شا کړه او په دغه لاره کې یې ځان او مال قربان کړل. دوی باور درلود چې د الهي دعوت په رسولو او د خلافت دولت په واسطه د شریعت په پلي کولو کې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم ځایناستي دي او دغې لویې دندې او مسوولیت ته یې تر بل هر څه ارزښت ورکاوه، څو خلک د اسلام عدالت ووینې او ډلې ډلې الهي دین ته داخل شي.

خو د مال قرباني کول: الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَتلُونَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ وَ أَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَ أَنفَقُواْ مِمَّا رَزَقنَٰهُم سِرًّا وَ عَلَانِيَةً يَرجُونَ تِجَٰرَةً لَّن تَبُورَ لِيُوَفِّيَهُم أُجُورَهُم وَيَزِيدَهُم مِّن فَضلِهِ إِنَّهُ غَفُور شَكُور﴾**

[فاطر: ۲۹]

***ژباړه:*** *هغه کسان چې د الله سبحانه وتعالی کتاب لولي، لمونځ کوي او په پټه او ښکاره د الله سبحانه وتعالی په لاره کې له ورکړل شوو څیزونو څخه انفاق کوي. په رښتینې توګه دوی د یوې داسې سوداګرۍ هیله لري چې په هغې کې به هېڅکله زیان ونه ویني؛ تر دې چې الله سبحانه وتعالی یې په پوره توګه اجر او له خپلې پېرزوینې څخه زیاته برخه ورکړي، ځکه چې الله سبحانه وتعالی قدرتمن او بښونکی دی.*

او هم فرمایي:

**﴿ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَموَٰلَهُم بِٱلَّيلِ وَ ٱلنَّهَارِ سِرًّا وَعَلَانِيَةً فَلَهُم أَجرُهُم عِندَ رَبِّهِم وَلَا خَوفٌ عَلَيهِم وَلَا هُم يَحزَنُونَ﴾**

[بقره: ۲۷۴]

*ژباړه:* *هغه کسان چې شپه او ورځ په پټه او ښکاره خپله شتمني د الله سبحانه وتعالی په لاره کې لګوي، پروردګار به یې اجر ورکړي؛ د هغوی لپاره هېڅ وېره او غم نشته.*

په قران کریم کې بل ځای داسې فرمايي:

**﴿مَّثَلُ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمۡوَٰلَهُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنۢبَتَتۡ سَبۡعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنۢبُلَةٖ مِّاْئَةُ حَبَّةٖۗ وَٱللَّهُ يُضَٰعِفُ لِمَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ﴾**

[بقره: ۲٦۱]

*ژباړه:* *د هغو کسانو مثال چې خپله شتمني د الله سبحانه وتعالی په لاره کې لګوي، د هغې دانې په څېر دی چې له کرلو وروسته اووه وږي زرغونوي، چې په هر وږي کې یې بیا سل دانې وي. په همدې ډول کله چې یو څه ته د الله سبحانه وتعالی خوښه شي، په عمل کې یې زیاتوالی راولي؛ د الله سبحانه وتعالی قدرت پراخ او په هر څه خبر دی.*

له همدې امله هغه ایتونه ډېر دي چې د الله سبحانه و تعالی په لاره کې انفاق ته هڅونه کوي. همدارنګه د رسول الله صلی الله علیه و سلم ډېر احادیث شته چې د الله سبحانه و تعالی په لاره کې انفاق تشویقوي؛ لکه څنګه چې هغه صلی الله علیه وسلم فرمايي:

**«ما من يوم يصبح العباد فيه إلا ملكان ينزلان، يقول أحدهما: اللهم أعطِ منفقًا خلفًا، ويقول الآخر: اللهم أعط ممسكًا تلفًا»**

(رواه بخاري)

*ژباړه:* *هر سهار دوې ملايکې رابښکته کېږي، یوه وايي: یا الله! هغه کس چې انفاق کوي، بدله یې ورکړه او بله وايي: بخیل او هغه کس چې انفاق نه کوي، زیامن یې کړه.*

او هم فرمايي:

**«قال الله: أَنْفِق يا ابن آدم أُنْفِق عليك»**

(رواه بخاري او مسلم)

*ژباړه: الله سبحانه و تعالی فرمایلي دي: اې د آدم اولاده! انفاق وکړه، چې زه پر تا انفاق وکړم.*

اصحاب رضی الله عنهم پر دغو مفاهیمو سم پوهېدل او عمل یې پرې کاوه؛ ځکه د هغوی لیدلوری داسې یوه مناره وه چې د تعقیبوونکو کسانو لپاره د لارښوونې لامل ګرځي؛ د بېلګې په توګه: حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه خپله ټوله شتمني رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راوړه؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم ترې وپوښتل: «د خپلې کورنۍ لپاره دې څه پرېښودل؟» ویې ویل: «الله او د هغه رسول مې ورته پرېښودل.» حضرت عثمان رضی الله عنه د مسلمانانو اردو تجهیز کړه، چې له ناوړه حالت سره مخ وه؛ تر دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د حضرت عثمان ابن عفان په اړه داسې وویل:

**«ما ضر عثمان ما فعل بعد الیوم»**

*ژباړه: له دې وروسته چې عثمان هر څه سرته ورسوي، هغه ته به زیان و نه رسوي.*

همدارنګه حضرت عثمان رضی الله عنه له یهودیانو څخه په مدینه کې د اوبو څاه واخیسته او مسلمانانو ته یې وقف کړه. حضرت ابو طلحه رضی الله عنه چې کله د الله سبحانه و تعالی دا وینا واورېده:

**﴿لَن تَنَالُواْ ٱلبِرَّ حَتَّىٰ تُنفِقُواْ مِمَّا تُحِبُّونَ وَمَا تُنفِقُواْ مِن شَيءٖ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٞ﴾**

[آل عمران: 92]

*ژباړه: تاسو به تر هغه وخته پوره نېکي (چې تاسو یې په لټه کې یئ او د الله سبحانه وتعال د خوښۍ لامل ګرځي) ته ونه رسېږئ، څو چې خپل غوره څیز انفاق نه کړئ او هر څه چې انفاق کوئ، الله سبحانه وتعالی پرې خبرېږي.*

تر ټولو خپل غوره مال یې په بیرحاء (په مدینه کې یو ځای دی) کې مسلمانانو ته وقف کړ او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې راوړ، څو له هرې برخې چې د هغه صلی الله علیه وسلم زړه وي، ګټه واخلي. حضرت صهیب رضی الله عنه د دې لپاره چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مدینې ته لاړ شي، خپله ټوله شتمني پرېښوده.

صحابه کرامو د الله سبحانه و تعالی په لاره کې په ښېنې، سرښندنې، قربانۍ کولو او انفاق کولو کې له یو بل سره سیالي کوله. شتمني به یې که هر څومره لږ وه، خو د دغه خیر د لاسته راوړلو لپاره به بیا هم حریص وو؛ ځکه

پوهېدل او باور يې درلود چې هر څه لګوي الله سبحانه وتعالی يې بدله ورکوي. دوی په دې برخه کې ډېر حريص وو، نو په همدې توګه بېوزله اصحابو کرامو به رسول الله صلی الله عليه وسلم ته شکايت کاوه، چې د الله سبحانه وتعالی په لاره کې د صدقې ورکولو او انفاق کولو لپاره څه نه لري، په داسې حال کې چې شتمن خلک د ثواب په اخيستلو کې له دوی څخه وړاندې دي. مسلم له ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت کړی:

**«أن فقراء المهاجرين أتوا رسول الله صلى الله عليه وسلم فقالوا: ذهب أهل الدثور بالدرجات العلى و النعيم المقيم، فقال: و ما ذاك؟ قالوا يصلون كما نصلى، ويصومون كما نصوم، ويتصدقون ولا نتصدق، ويعتقون ولا نعتق، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم أفلا أعلمكم شيئًا تدركون به من سبقكم وتسبقون به من بعدكم؟ ولا يكون أحد أفضل منكم إلا من صنع مثل ما صنعتم، قالوا: بلى يا رسول الله، قال: تسبحون وتكبرون وتحمدون دبر كل صلاة ثلاثًا وثلاثين مرة»**

***ژباړه:*** *«د مهاجرينو بېوزله کسان رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغلل او ويې ويل: شتمنو خلکو لوړ مقامونه او هغه جنت چې پکې تلپاتې نعمتونه دي، خپل کړل. ورته ويې ويل: يعنې څه؟ صحابه کرامو ورته وويل: دوی لمونځ کوي موږ يې هم کوو؛ روژه نيسي موږ يې هم نيسو؛ صدقه ورکوي، خو موږ صدقه نه ورکوو، هغوی غلامان ازادوي، خو موږ يې نه ازادوو؛ رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: ايا تاسو ته هغه څه در زده نه کړم چې له تاسو څخه وړاندې کسانو پسې ورسېږئ او له هغو کسانو څخه مخکې شئ چې له تاسو به وروسته راځي؟ له تاسو څخه هېڅوک غوره نه وي، پرته له هغو کسانو څخه چې ستاسو په څېر اعمال ترسره کوي؛ اصحابو وويل، ولې نه! ويې فرمايل: له هر لمانځه وروسته دري دېرش ځله سبحان الله، دري دېرش ځله الله اکبر او دري دېرش ځله الحمدلله ووايئ.»*

د فقر، سختيو او ناورينونو پر مهال چې دعوت ډېرو قربانيو او هڅو ته اړتيا ولري، د مال او شتمنۍ په ورکولو سره د دعوتګر عادت کېدل، له شک پرته د هغه د نفس د پاکوالي او له دنيا څخه د لرېوالي لامل کېږي. په دې توګه د دعوت لپاره د انفاق د دروازې پرانيستل بېرته د مسلمانانو عزت را ژوندی کوي او هغوی يو ځل بيا د دنيا مشران او رهبران ګرځوي او د الله سبحانه وتعالی په اذن دا له فضيلت څخه ډکه دروازه ده.

د وخت قرباني کول: همدارنګه پر دعوتګر لازمه ده چې د خپلې شپې او ورځې يوه برخه وخت د دعوت لپاره ځانګړې کړي او بايد خپل غوره وخت د هغه امانت د اداکولو لپاره ولګوي، چې لېږدول يې د ده لپاره اساسي دنده ده. موږ ايمان لرو چې دا د امت لپاره يوازنۍ لاره ده چې له تنګ ژوند، له الله سبحانه وتعالی څخه له

لرېوالي او د دښمنانو له واکمنېدو څخه يې ژغوري. دعوتګر بايد دعوت د خپل ژوند اصلي محور او د لمړيتوبونو سر وګرځوي او د دغه کار په بدل کې دې د الله سبحانه وتعالی رضا وغواړي. همدارنګه خپل خوب او ارامتيا دې قرباني کړي او حتا ځينې وخت بايد د الهي دعوت د لېږد لپاره د خپل کاري وخت يوه برخه هم قرباني کړي. پردې بايد ايمان ولري چې الله سبحانه وتعالی به يې دغه قربانۍ هغې ورځې ته وساتي چې هغه وخت به يې شتمني او اولاد ګټه نه کوي او په همدې توګه په ټولو عملونو او وختونو کې به يې برکت واچوي. په رزق بايد باور ولري چې ټاکل شوی رزق به ورته رسېږي، هغه که ۲۰ ساعته کار وکړي يا ۸ ساعته او يا هم تر هغه لږ يا ډېر وي؛ له رزق څخه به يې يوه زره هم کم نشي، ځکه چې رزق ويشل شوی او ټاکل شوی دی او د رزق له لاسته راوړلو وړاندې هېڅکله نه مړ کېږي.

ايمان د دې لامل کېږي چې دعوتګر ټوله ورځ دعوت ولېږدوي. هغه که هر ځای وي په کار کې يا له خپلې کورنۍ او اولادونو سره په کور کې يا له خپلو ګاونډيانو سره او يا هم په سيمه او کلي کې وي؛ ځکه هغه يوازې امر باالمعروف او نهې عن المنکر ته دوام ورکوي. همدارنګه د کار او د ثقافت د درس لپاره خپل وخت تنظيموي او ځانګړو لېدونو ته به ځان تياروي او هر هغه څه به تر سره کوي چې د دعوت په لېږدولو کې اړين وي.

همدارنګه هغه د خپل مسوليت او مکلفيت د ادا کولو لپاره له ځنډ او خنډ پرته چمتو وي. دعوتګر د قوي هوډ او لوړ همت خاوند او حماسه جوړوونکی وي؛ تر څنګ يې د خلکو پر وړاندې مهربانه او د هغوی خير غوښتونکی وي. د هغوی د ګټې لپاره حريص وي، څو داسې يو حالت ته يې يوسي چې الله سبحانه وتعالی ترې راضي شي او څه شی چې د ځان لپاره غواړي لکه، فهم، ليدلوری او فکر چې الله سبحانه وتعالی ورته ډالۍ کړی، د دوی لپاره هم غواړي.

هغه ساعتونه او دقيقې چې په دې دنيا کې ژوند کوو، په حقيقت کې زموږ عمر دی؛ نو بايد د الله سبحانه و تعالی په اطاعت او هغه څه ځان لګيا کړو چې الله سبحانه و تعالی راضي کوي. خپل وخت په لهو او لوبو تېر نه کړو،که څه هم چې مباح وي يا د هغه څه په اړه بې پروايي ونه کړو چې الله سبحانه وتعالی پر موږ واجب کړي دي. هر انسان په ځانګړې توګه دعوتګر بايد د ځان د محاسبې لپاره خپل ورځني پروګرامونه او کارونه تنظيم کړي؛ که نيمګړتياوې لري، نو وړاندې تر دې چې محاسبه شي، بايد په خپله ځان محاسبه کړي.

په دنيا کې د نيمګړتيا جبران امکان لري او انسان هم پرې توانېدلی شي، خو په اخرت کې هېڅ عمل او کار نشته؛ بلکې پر نيمګړتياوو به پښېماني وي، چې هغه وخت بيا هېڅ ګټه نه لري. ابو برزه نضله له عبيد الاسلمي رضی الله عنه څخه روايتوي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

**«لا تزول قدما عبد يوم القيامة حتى يسأل عن أربع: عمره فيمَ أفناه؟ وعن علمه فيمَ فعل؟ وعن ماله من أين اكتسبه؟ وفيمَ أنفقه؟ وعن جسمه فيمَ أبلاه»**

(رواه ترمذي)

***ژباړه:*** *د قيامت په ورځ به هېڅ بنده له خپله ځايه ونه خوځېږي، څو چې څلور شيان ورڅخه ونه پوښتل شي: عمر دې په څه شي کې تېر کړ؟ علم دې په څه شي کې وکاراوه؟ مال او شتمني دې له څه شي څخه لاسته راوړه؟ او خپل بدن دې په څه شي کې وروست کړ؟*

*له ابن عباس څخه روايت دی، چې رسول اکرم صلی الله عليه وسلم يو کس ته نصيحت کاوه او ويې فرمايل:*

**«اغتنم خمسًا قبل خمس: شبابك قبل هرمك، وصحتك قبل سقمك، وغناءك قبل فقرك، وفراغك قبل شغلك، وحياتك قبل موتك»**

(رواه حاکم بالمستدرک)

***ژباړه :*** *پنځه شيان له پنځو شيانو وړاندې غنيمت وګڼه: ځواني دې وړاندې له زوړوالي، روغتيا دې وړاندې له ناروغی، شتمني دې وړاندې له لوږې، بيکاري دې وړاندې له بوختيا او ژوند دې وړاندې له مړينې څخه!*

څه شی چې د درک وړ دي، هغه د الله سبحانه وتعالی لخوا د صادقو علماوو په وخت کې د برکت اچول دي؛ ځکه دوی هغه څه ترسره کوي چې په مادي حسابونو کې يې تصور ستونزمن دی او د هغوی په خبرو، فعلونو او کتابونو کې برکت نغښتی. دوی په هغه اندازه ګټور او اغېزمن تمام شوي، چې دا حالت يې په ذهن کې هم نه و تېر شوی؛ نو دا حالت به د نورو په ذهن کې څنګه تېر شوی وی، ځکه يوازنی دليل يې دا دی چې دوی د خپل وخت ډېره برخه قرباني کړې وه.

نو هغه پايلې، ګټې او لاربنوونې چې له دغو ټولو ترسره شوو هڅو او قربانيو څخه لاسته راځي، د خاوند په ذهن کې نه تېرېږي او په دوام يې يوازې الله سبحانه وتعالی پوهېږي. د لاندې حديث مصداق چې پيغمبر صلی الله

علیه وسلم فرمايي: «څوک چې د خير په لوري لارښوونه کوي، د هغه چا اجر هم اخلي چې له ده څخه يې پيروي کړې ده، خو د هغه اجر نه کمېږي.» له حضرت ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«مَنْ دَلَّ عَلَى خَيْرٍ فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِ فَاعِلِه»**

***ژباړه:*** *څوک چې د خير کار لپاره لارښوونه کوي، ثواب يې د خير د فاعل په اندازه دی.*

پيغمبر صلی الله عليه و سلم د خيبر د فتحې په ورځ حضرت علي رضی الله عنه ته په يوه اوږده حديث کې وفرمايل:

**«...فوالله، لأن يهدى الله بك رجلًا واحدًا خير لك من أن يكون لك حمر النعم.»**

***ژباړه:*** *... په الله قسم! دا چې ستا په واسطه الله متعال يو کس ته لارښوونه کوي، تاته د سره اوښ له درلودلو څخه غوره دی.*

دا فضيلت يوازې حضرت علي رضی الله عنه ته ځانگړی نه و، بلکې د پيغمبر صلی الله عليه و سلم ټول امت لپاره عام دی او په پای کې بايد وويل شي: کله چې دعوت د قربانيو په ورکولو سره پر مخ ځي، هر دعوتگر بايد خپل تکليف او واجبات وپېژني.

يا الله! موږ ته نيک درک، عمل، خبرې او وړتيا را په برخه کړې او موږ د هغو کسانو له ډلې څخه وگرځوې چې خبرې اوري او د نېکو خبرو پيروي کوي. اې زموږ پروردگاره! موږ د خير کيلۍ او د شر قلفونه وگرځوه او په خپل فضل او کرم د نبوت پر منهج د راشده خلافت د راتلو لپاره پر موږ خپل منت ولوروه.

و آخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمين و صلی الله علی سيدنا محمد و علی آله و صحبه أجمعين.

**له الوعې مجلې څخه اخيستل شوی-گڼه: ۳۸۷**

**۱۴۴۰هـ.ق، ربيع الثاني**

**۲۰۱۸م، ډسمبر**